# VOTE
## October 26

# ستاسو ښار. ستاسو رایه.

د ټورنټو ښاروالۍ ټاکنې

دوشنبه، د اکتوبر ۲۶، ۲۰۲۶

**toronto.ca/Elections**

د ښاروالۍ د ټاکنو د معلوماتو لپاره ستاسو باوري سرچینه.

TORONTO

311

# ټورنټو، د رایې ورکولو لپاره چمتو اوسئ!

## څوک رایه ورکولی شي؟

د ټورنټو د ۲۰۲۶ کال د ښاروالۍ په ټاکنو کې د رایې ورکولو وړتیا لپاره، تاسو باید:

- د کاناډا تبعه اوسی؛ او
- لږ تر لږه ۱۸ کاله عمر ولری؛ او
- د ټورنټو ښاراستوګن اوسی ؛ او یا
- د ټورنټو غیر استوګن په صورت کې، باید تاسو او یا ستاسو همسر په ټورنټو کې خپل ملکیت ولری او یا کرایه ورکړی؛ او
- د هیڅ قانون له مخې د رایې ورکولو څخه منع شوي نه یاست.

پرته له دې چې تاسو په ټورنټو کې څومره خپل ملکیتونه لری او یا کرایه ورکوی، تاسو کولی شي یوازې یو ځل رایه ورکړی. تاسو باید په هغه سیمه (وارډ) کې رایه ورکړئ چیرې چې تاسو ژوند کوی.

## هر هغه څه وموئ چې تاسو ورته اړتیا لری

د **toronto.ca/Elections** څخه لیدنه وکړئ تر څو:

- د رای ورکوونکو په نوملړ کې خپل معلومات تایید کړی، اضافه ،کړی او یا هم مکمل کړی (د اکتوبر تر ۱۱مې نېټې د ماښام تر ۷ بجو پورې).
- دا وموی چې چیرته او کله رایه ورکړی.
- د پیژندپاڼو د اړتیاو په اړه زده کړی.
- د رایې ورکوونکو د معلوماتو ډیجیټل کارت ډاونلوډ او یا چاپ کړی.
- د خپل رایې ورکولو ځای په اړه د لاسرسي معلومات وموی.
- په خپله سیمه (وارډ) کې د نمونې رایې پاڼې او د نوماندانو نوملړ وګوری.

## د رایې ورکولوغوراوي

### په حضوري توګه

تاسو کولی‌شی د مخکښې رایې ورکول (ایډوانس ووټینګ) پرمهال او یا د ټاکنو په ورځ په حضوري توګه رایه ورکړی. په خپله سیمه (وارډ) کې‌د رایې ورکولو ځای په **toronto.ca/Elections** کې وموی.

| **مخکښې رایې ورکول (ایډوانس ووټینګ)** | **د ټاکنو ورځ** |
|---|---|
| د اکتوبر ۶ مې تر ۱۱مې نېټې پورې<br>د سهار ۱۰ بجو څخه د ماښام تر ۷ بجو پورې | دوشنبه، د اکتوبر ۲۶مه<br>د سهار ۱۰ بجو څخه د ماښام تر ۸ بجو پورې |

## د پوستې له لارې

تاسو کولی شی په **toronto.ca/Elections** د پوستې له لارې د رایې ورکولو غوښتنه وکړی. ستاسو بشپړ شوې د پوستې له لارې د رایې ورکولو کڅوړه (پکېج) باید د اکتوبر په ۱۴مه د ماسپښین تر ۱۲ بجو (غرمه) پورې د ټورنټو ټاکنو ادارې ته ورسېږي. د خپلې نښاني شوې رایې او اړوند سندونه بېرته استولو لپاره، د ټورنټو ټاکنو یو خوندي پوست بکس (ډراپ بکس) کې واچوئ او یا په یو مخکې تادیه شوی (پری پیډ) پاکټ کې د پوستې له لارې د کاناډا پوسټ په ذریعه واستوئ. د پوست بکس (ډراپ بکس) ځایونه او ساعتونه په **toronto.ca/Elections** کې ومومئ.




<u>**د پوستې له لارې د رایې ورکولو مهمې نېټې**</u>

**د غوښتنې موده:** د سې شنبې، د سپټمبر لومړۍ نېټې څخه تر پنجشنبې، سپټمبر ۲۴مه د مازدیګر ۴:۳۰ بجو پورې.
**د بېرته استولو وروستۍ نېټه:** چهارشنبه، د اکتوبر ۱۴مه د ماسپښین ۱۲ بجې (غرمه)

## د استازي (پراکسي) له لارې

که تاسو په حضوري توګه یا د پوستې له لارې رایه نشی ورکولی، تاسو کولی شی یو بل کس وټاکی تر څو ستاسو په استازیتوب رایه ورکړي. دا کس باید د ټورنټو ښاروالۍ د ۲۰۲۶ په ټاکنو کې د رایې ورکولو وړتیا ولري.
د استازي د ټاکلو فورمې غوښتلو لپاره **VoterRegistration@toronto.ca** ته یو برېښنالیک واستوئ او یا د **311** شمېرې سره اړیکه ونیسئ.

<u>**د استازي (پراکسي) له لارې رایې ورکولو مهمې نېټې**</u>
**د استازي د ټاکلو د فورمې غوښتل:** سې شنبې، د سپټمبر لومړۍ نېټې څخه پیلېږي
**په حضوري توګه د استازي د ټاکلو د فورمې لازمي تصدیقول:** دوشنبه، د اکتوبر ۲۶مه، د مازدیګر ۴:۳۰ بجې

# د رای ورکوونکو په نوملړ کې شاملېدل

د toronto.ca/Elections څخه لیدنه وکړئ او یا د خپلو رایې ورکوونکو د نوملړ د معلومات تاییدولو، اضافه او یا مکملولو لپاره د ۳۱۱ شمېرې سره اړیکه ونیسئ. د رایې ورکوونکو په نوملړ کې په آنلاین توګه د معلومات د بدلولو وروستۍ نېټه یکشنبې، د اکتوبر ۱۱مه، د ماښام ۷ بجې ده.

دا مهمه ده چې ډاډ ترلاسه کړئ چې تاسو د رایې ورکوونکو په نوملړ کې یاست او ستاسو معلومات سم دي، په ځانګړې توګه که تاسو د تېرو ښاروالۍ ټاکنو راهیسې بل ځای ته کډه کړې وي او یا خپل نوم بدل کړی وي. د رایې ورکولو وړاندې د رایې ورکوونکو په نوملړ کې شتون به د رایې ورکولو بهیر ګړندۍ کړي.

که تاسو د یکشنبې، سپټمبر ۲۰مه پورې د رایې ورکوونکو په نوملړ کې یاست، نو تاسو ته به د رایې ورکوونکو د معلوماتو کارت واستول شي.

- تاسو کولی‌شی خپل نوم د مخکېنۍ رایی ورکول (ایډوانس ووټینګ) پر مهال یا د ټاکنو په ورځ په حضوري توګه د راېي ورکوونکو په نوملړ کې اضافه کړی.

**د راېي ورکولو لپاره، تاسو باید د ورتیا اړتیاوې پوره کړی او یوه پېژندپانه وښایاست، حتی که تاسو د راېي ورکوونکو په نوملړ کې هم یاست.**

<u>**د رای ورکوونکو دنوملړ مهمه نېټه**</u>

**د رای ورکوونکو دنوملړ آنلاین مکمولو وروستۍ نېټه:** یکشنبه، د اکتوبر ۱۱ مه، د ماښام ۷ بجې

## د راېي ورکوونکو د معلوماتو کارت

ستاسو د راېي ورکوونکو د معلوماتو کارت دا ښيي چې کله او چیرته باید په حضوري توګه رایه ورکړی. د راېي ورکولو ځای ته د خپل د راېي ورکوونکو د معلوماتو کارت راوړل به د راېي ورکولو بهیر ګړندی کړي، مګر تاسو د راېي ورکولو لپاره د راېي ورکوونکو د معلوماتو کارت ته اړتیا نلری. ستاسو د راېي ورکوونکو د معلوماتو کارت د پیژند پاڼې په توګه نشي کارول کېدی.

<u>**د راېي ورکوونکو د معلوماتو کارت مهمې نیټې**</u>

**د راېي ورکوونکو د معلوماتو برېښنایي (ډیجیټل) کارت آنلاین شتون لري: د سه شنبې، د سپتمبر لومړۍ نېټې څخه پیلیږي**

**د راېي ورکوونکو د معلوماتو کارت د پوستې له لارې استول: د دوشنبې، سپټمبر ۲۸ مې نیټې څخه پیلیږي**

kids VOTE weekend

## د راتلونکي راېي ورکوونکو وده

ماشومان کولی شي د ټورنټو د ۲۰۲۷ د کال د ونې لپاره رایه ورکړي او د راېي ورکولو بهیر په اړه زده کړي.

**شنبه، د اکټوبر ۱۰ مه او یکشنبه، د اکټوبر ۱۱ مه نېټه**

د سهار له ۱۰ بجو څخه تر ماښام ۷ بجو پورې

په ټولو ۵۰ د مخکېنۍ رایی ورکول (ایډوانس ووټینګ) ځایونو کې

**د پېپر ونه :**
زما تخمونه لرې الوتنه
کوي ترڅو زما سره مرسته
وکړي چې هر چیرې وده
وکړم!



**د باسووډ ونه:**
زما سیوري ما په پارک کې
تر ټولو سړه ونه ګرځوي!



**د شکرې مېپل ونه:**
زما خوږ جوس او
روښانه رنګونه په ټوله
نړۍ کې مشهور دي!



**د سره بلوط ونه:**
زما مېوه او پاڼې زما د
ځارویو ملګرو لپاره
خوندور خواړه دي!



**د سپین صنوبر ونه:**
زما ستنې  زما د ځارویو
ملګرو ته ټول کال سرپناه
ورکوي!



**له نوماندانو سره لیدنه**

ګټونکې ونه به د ټورنټو د ۲۰۲۷ کال غوره ونې په توګه ونومول شي او د کښېښنولو، ښوونځیو ته د نیالګیو په ورکولو، او د نیالګیو د وړیا وېشلو په ټولو عامه غونډو کې ونمانځل شي.

**د ساتیرۍ فعالیتونو او سرچینو لپاره ده toronto.ca/KidsVote څخه لیدنه وکړئ:**

- دا زده کړې چې څرنګه د رایې ورکولو پاڼه نښاني کړې.
- وګورئ چې چیرته رایه ورکړې.
- ومومئ چې د کومې نوماندې ونې تر ټولو لوېې پاڼې، تر ټولو سخت پوټکی او یا تر ټولو خوندور جوس لري.
- ومومئ چې مچۍ، مرغۍ او خرلمې تر ټولو زیات کومه نوماندې ونه خوښوي.

# toronto.ca/KidsVote

## د لاسرسي معلومات

د رایې ورکولو ټول ځایونه د لاسرسي وړ دي او د ملاتړ کونکو او خدمتګار ځارویو کارولو ته ښه راغلاست ویل کیږي. ستاسو رایې ورکولو ځای ته د لاسرسي په اړه معلومات په **toronto.ca/Elections** کې موندل‌کېدی شي.

### د رایې ورکولو د لاسرسي وړ وسایل

- د رایې ورکوونکو د مرستې ټرمینل معلولیت لرونکو رایې ورکوونکو ته اجازه ورکوي چې د مختلفو مرستندویه وسایلو په کارولو سره خپله رایه په شخصي او خپلواکه توګه نښاني کړي.
- د رایې ورکوونکو د مرستې ټرمینلونه د ټچ سکرین، د آډیو فعالیت، د بریل کیپیډ، د سیپ/پف ټیوب وسیله، د راکر پېډل، او زووم (د عکس را نژدې کول) ځانګړتیاوې لري ترڅو د لیکنې (فونټ) اندازې او رنګ تنظیم کړي.
- د رایې ورکوونکو د مرستې ټرمینلونه به د ټاکنو په ورځ په ټولو مخکینۍ رایې ورکولو (ایډوانس ووټینګ) ځایونو او په هره سیمه (وارډ) کې دوه د رایې ورکولو ځایونو کې شتون ولري. که تاسو د ټاکنو په ورځ د رایې ورکوونکو د مرستې ټرمینل ته اړتیا لرئ او ستاسو په ټاکل شوي رایه ورکولو ځای کې یو ټرمینل شتون نلري، تاسو کولی شئ د ۳۱۱ شمېرې سره د اړیکې نیولو سره د خپلې رایې لېږدولو غوښتنه وکړئ.

### نور خدمتونه

- که تاسو په حضوري توګه رایه نشی ورکولی، تاسو کولی شی د پوستې له لارې د رایې ورکولو غوښتنه وکړئ او یا د رایې ورکولو استازی وټاکئ. د نورو معلوماتو لپاره ددې پاڼې شا اړخ وګورئ او یا د toronto.ca/Elections څخه لیدنه وکړئ.
- د رایې ورکولو ټول ځایونه د لویولو پاڼې (مګنیفیکېشن شیټس)، د بریل رایې ورکولو لارښوونې، د بریل رایې پوښښونه، او په ۲۶ ژبو کې د رایې ورکولو څرنګوالي په اړه لارښوونې لري.
- تاسو کولی شی یو ملګری او یا ملاتړ کونکی کس راولی ترڅو ستاسو سره مرسته وکړي.
- که تاسو د رایې ورکولو ځای ته دننه نشی تللی، نو ستاسو د رایې پاڼه تاسو ته بهر یا ستاسو موټر ته راوړل کېدی شي. د نورو معلوماتو لپاره د ۳۱۱ شمېرې سره اړیکه ونیسی.
- که تاسو په خپل ټاکل شوي رایه ورکولو ځای کې د خنډ اټکل کوی، تاسو کولی شی د ۳۱۱ شمېرې سره مخکې اړیکه ونیسئ او وغواړئ چې ستاسو د رایې ورکولو پاڼه بل ځای ته د رایې ورکولو لپاره ولېږدول شي.
- که تاسو کوڼ یاست او یا اورېدلو کې ستونزه لرئ، او یا د هغو کسانو لپاره چې د خبرو کولو معلولیت لري، تاسو کولی شی د خپلې ټیلي ټایپ وسیلې په کارولو سره د ۷۱۱ شمېرې د ډایل کولو له لارې د ټاکنو معلوماتو ته لاسرسی ومومی.
- د لاسرسي اضافي ملاتړ لپاره، د AccessibleElections@toronto.ca سره اړیکه ونیسئ.

### د منلو وړ پېژند پاڼې

د رایې ورکولو لپاره، تاسو باید د ټاکنو چارواکي ته د منلو وړ یوه پېژندپاڼه وښیې چې ستاسو نوم او د ټورنټو پته لري. د عکس لرونکې پېژندپاڼې ته اړتیا نشته.

## د منلو وړ پېژندپاڼې بیلګې:

- د آنټاریو لخوا صادر شوی د موټر چلولو جواز، د عکس کارت یا د موټر چلولو جواز (د موټر برخه).
- کریډیټ کارت او یا د بانک حساب راپور (سټېټمنټ) او یا لغوه شوی شخصي چیک.
- د کور د رانیولو (مارګېج) سند، د کور د اجارې او یا کرایې تړون.
- د تنخوا د چک، د مالیې (ټکس) فورمه او یا د کارګمارونکي لخوا صادر شوی د تادیې رسید.
- د آنټاریو ورکس او یا د آنټاریو معلولیت ملاتړ پروګرام لخوا د تادیاتو سند.
- د ملکیت مالیه او یا د عایداتو مالیې ارزونې خبرتیا.
- د برېښنا، اوبو، ګاز، ټیلیفون یا کېبل تلویزیون لپاره د کارونې بل.

### برېښنایي پېژند پاڼه

- تاسو کولی شی په خپل ګرځنده ټیلیفون کې یو سند د پېژند پاڼې په توګه وښیې، که چیرې دا سند په برېښنایي ډول صادر شوی وي (د بېلګې په توګه ډیجیټل ټیلیفون بل او یا د کریډیټ کارت راپور (سټېټمنټ))
- تاسو نشی کولی د یو سند عکس، فوټوکاپي یا سکین د پېژند پاڼې په توګه وښیې که چیرې دا سند په برېښنایي ډول نه وي صادر شوی (د بېلګې په توګه ستاسو د موټر چلولو جواز عکس).







**د منلو وړ پېژند پاڼو بشپړ نوملړ په toronto.ca/Elections کې ومومئ.**

- تاسو **نشی کولی** خپل د رایې ورکولو معلوماتي کارت د پېژند پاڼې په توګه وکاروی.
- تاسو **نشی کولی** خپل پاسپورټ د د پېژند پاڼې په توګه وکاروی، ځکه چې دا ستاسو پته نه ښیې.



toronto.ca/Elections

elections@toronto.ca

311

@cityoftoronto

City of Toronto

@cityofto